**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .
کیدای شي ځینې ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل شمېره: ۴۴**

**نېټه: ۱۴۴۴/۸/٦ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو منسوبینو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د سترې محکمې د عالي شورا جلسه په ۱۴۴۴/۸/۱ هـ ق نېټه چې له ۱۴۰۱/۱۲/۳ هـ ش سره برابره ده، دایره شوه چې د یادې جلسې لومړۍ موضوع داسې وه: ((ځینې وختونه یو کس د نظامي زون یوې محکمې څخه د بل نظامي زون محکمې ته او یا د یو ولایت د تېرې اداري د دوسیو د بررسۍ اختصاصیه محکمې څخه د بل ولایت اختصاصیه محکمې ته د محکمې د تبدیلۍ غوښتنه کوي، په دې مورد کې څه ډول ترتیب صورت ونیسي؟))

د سترې محکمې محترمې عالي شورا د ۱۴۴۴/۸/۱ هـ ق نېټې د (۳۱مه) ګڼه تصویب د لومړۍ فیصلې په ترڅ کې لارښوونه کړې چې پښتو ژباړه[1] یې په لاندې ډول ده: ((د یو زون نظامي محکمې څخه د بل زون نظامي محکمې ته او د یو ولایت د تېرې اداري د ناتطبیق شویو نهائي او قطعي فیصلو د بررسۍ یوې اختصاصیه محکمې څخه د بل ولایت اختصاصیه محکمې ته د محکمې تبدیلي نه شي کېدلی.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام پورتنۍ لارښوونې د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړونده د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو ته واستول شوې تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت ترسره شي.

**په درناوي**

(لاسلیک)

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

[1] د ژباړن یادښت: په اصلي متن کې "ترجمه دری" لیکل شوی. داسې برېښي چې دا متن له پښتو څخه دري ته ژباړل شوی دی.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ .

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .
کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

**ستره محکمه**

(مهر)